پوهندوی آصف بهاند ۲۰۲۰/۰۶/۰۱

# لنډۍ، د ښتولو ستونزه

## اته دیـرشمه برخه

## لنډۍ د شیما غفوري له نظره

**من به این تصور هستم که انها (پښتونها) اندوه مصیبت جنگهای تحمیلی و از دست دادن عزیزان شانرا با مرهم شعر تداوی می کنند، هر خنجر غمی (که) قلب شان را می شگافد، با ترنم لنډی آنرا دوباره بخیه می زنند.**
(استاد شیما غفوري)

د دوه زره شلم کال د مې میاشتې پر دېرشمه نېټه په میډیا (افغان جرمن، تاند) کې د درنې استادې پوهندوی شیما غفوري یوه مقاله پر لیکه شوه چې د هغې مقالې په وسیله یې ټولو افغانانو ته د «پښتو ورځ» مبارکي وړاندې کړې وه او د مبارکۍ په ترڅ کې یې د پښتو لنډیو په برخه کې خپل نظر له لوستونکو سره شریک کړی و.

خو لومړی استاد شیما غفوري:

شیما غفوري د ۱۳۳۷ کال په دلو کې، په کابل کې زېږېدلې ده، ښوونځې یې په کابل کې پیل کړ، او دولسم ټولګی یې په لوړو نمرو سره پایته ورساوه، د لوړو زدکړو له پاره د کانکور د لوړو نمرو پر اساس په ۱۹۷۵ کال د نورو زدکړو له پاره بهر ته لاړه او د کرنیزې انجنیرۍ په څانګه کې یې زدکړې وکړې، په ۱۹۸۱ کې بېرته وطن ته راستنه شوه، د کابل پوهنتون د کرنې پوهنځي په علمي کادر ومنل شوه او په تدریس یې پیل وکړ.

علمي تدریسي او تحقیقي کارونه یې په منظم ډول روان، د لسو کلو په موده کې یې تر پوهندویۍ علمي رتبې پورې ځان ورساوه؛ خو په وطن کې د ګډو وډ حالت په رامنځته کېدو سره، نوره ونه توانېدله چې خپل ژوند او علمي کارونو ته په خپل وطن کې دوام ورکړي، مهاجرت ته اړوتله او له ۱۹۹۲ام کال نه را په دېخوا په جرمني کې له خپلې کورنۍ سره ژوند کوي.

په جرمني کې یې بیا زدکړې پیل کړې او د خپلو نوو زدکړو له مخې یې کار هم پیل کړ. په ټولنیزو کارونو کې فعاله ده او له افغانانو سره د مهاجرت په ستونزو کې مرسته کوي، قلم چلول او فرهنګي هڅې یې د مهاجرت په چاپېریال کې وغځولې او ان تر دې چې په شاعرۍ کې د «استاد ادب دري» وياړلی لقب هم ور په برخه شو.

استاد شیما غفوري په دري ژبه شاعري کوي او د "آۀ نارسا" په نامه یوه شعري ټولګه هم لري، کله ـ کله لنډۍ کیسې هم لیکي.

ما د لنډیو په باب د عمومي هر اړخیزو مالوماتو په راټولو او د لنډیو د ښتولو او خوندي کولو په ترڅ کې وعده کړې وه چې زه به هرکله د لنډیو په باب نوی مالومات، نوي نظریات خوندي کوم او تر خپلې وسې پورې به نوې لنډۍ هم راټولوم او له ټولو لوستونکو سره به یې شریکوم. اوس مې چې د لنډیو په باب د آغلې شیما غفوري نظریات ولوستل، ومې لیدل چې ډېر علمي دي او ډېرې نوې خبرې په کې دي، نو ځکه مې د لنډیو د مقالو دا برخه **«لنډۍ، د ښتولو ستونزه، اته دیرشمه برخه»** ورته ځانګړې کړه او غواړم چې لنډې خبرې پرې وکړم:



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنيزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په خیر و لولئ

د لنډيو په باب د استاد شيما غفوري خبرې او نظريات، له لنډيو څخه د دې خپل برداشت دی او زما له پاره ډېر نوي او د عالمانه جنبي درلودونکي نظريات دي. دې د لنډيو په باب د خپلو خبرو په ترڅ کې داسې ويلي:

«... من نميدانم که آيا تا حال کسانی در اين مورد چيزی نوشته اند و يا خير ولی احتمالاً که اين موضوع را برای بار اول من می نويسم.

«بعد از ازدواج منِ دختر کابلی خارج ديده با زنان و مردان پشتو زبان شهری و دهاتی نشست و برخاست فاميلی پيدا نمودم.

آنچه که باعث تعجب من شد اين بود که يک قوم همه زن و مرد، باسواد و بيسواد، پير و جوان همه شعر می گويند.

حتی مکتب نرفته ها، دختران خجالتی دهات، مردان و زنان در گير جنگ و فقر، مردان و زنان با قامت دوتا همه می سرايند.

کسی از جنگ می ناليد، زنی با يک لنډۍ زيبا احساس خود را با آن حالت ابراز می کرد، ديگری از آنطرف يک لنډۍ فی البديهه را می گفت، و آن ديگر در حاليکه اشک هايش را پاک ميکرد، يک لنډۍ را که همان حالت خودش را در همان لحظه ترجمانی می کرد، می‌سرود.

و جالب اينکه بعضا چنان لنډۍ های عريان که از بوسيدن و بغل گرفتن... سخن ميراندند.

اکثريت آنها زنان و مردان، دخترها و پسر های بيسواد بودند، ولی همه شاعر، بدون آنکه خود را شاعر بگويند.

در مجالس زيادی متوجه شدم که يک قوم همه شاعر اند و در مورد هر چيزی که می بينند ميتوانند يک لنډۍ بسرايند.

از وطن گرفته تا انسانيت، عشق، روابط مخفی عاشقانه، بوسيدن و نوازش، غم و اندوه، جنگ و شجاعت ووو..

چنانچه وقتی لنډۍ ها را مطالعه کنيم، در می يابيم که برای ابراز احساسات، سرحدي را نمی شناسد و از مسايلی که در شعر فارسی تابو شمرده می شود، در لنډۍ ها خيلی وافر گفته شده است.

شاعره زيبا کلام شعر فارسی، فروغ فرخ زاد به خاطر تابو شکنی هايش آوازه شرق گرديد، ولی در زمان حياتش با عکس العمل شديد اجتماع هم مقابل شد. و اما در لنډۍ های پشتو بازتاب طبيعت انسانی را در هزاران شکل و خيلی برهنه تر می توان يافت.

و من به اين تصور هستم که انها اندوه مصيبت جنگهای تحميلی و از دست دادن عزيزان شان را با مرهم شعر تداوی می کنند. هر خنجر غمی (که) قلب شان را می شگافد، با ترنم لنډۍ آنرا دوباره بخيه می زنند.»

د لنډيو په باب د پوهندوی شيما غفوري څرګندوني کاملاً نوي او له لنډيو څخه د دې خپل برداشت دی. شيما غفوري د لنډيو په باب دا خبرې نه چيرې لوستې دي او نه يې له بل چا اورېدلي دي، بلکې دا په خپله په ټولنه کې او په کورنۍ کې له خلکو سره ناسته ده ، له خلکو سره غږېدلې ده او دا څه يې چې ليکلي، ټول د دې د سترګو ليدلی حال دی او ټول يې د خپل ذهن په چيپ کې ثبت کړي دي . دې له زدکړې او نازدکړې څخه، له مشر او کشر څخه، له نرينه او ښځينه څخه، له پيغلې او زلمي څخه لنډۍ په داسې بڼه اورېدلې دي چې هيڅ ډول تصنع په کې نه وه، ټولو د لنډۍ په ژبه خبرې کولې او لوی مطالب به يې د يوې دوه مسريز بيت په قالب کې يو بل ته لېږدول.

شيما غفوري دا هر څه اورېدلي دي، د خپل فکر په رنګ يې رنګولي دي او د خپلو تجاربو په کوره کې يې پاخه کړي دي او بيا يې نورو ته د رسولو په خاطر د کاغذ او کمپيوټر پر پاڼه پياده کړي دي.

شيما غفوري د ټولنې له هر جنس او هر قشر نه دا لنډۍ اورېدلي دي چې هغوی د ټولنې په منځ کې مينه کړې، رنځونه يې ګاللي دي، ظلمونه يې سهلي دي، ويرونه يې زغملي دي او د پښتنې ټولنې په اوسپنيز چوکاټ او قيوداتو کې يې ژوند کړی دی او بيا خپل ټول هر اړخيز احساسات يې د لنډۍ په قالب کې خوندي کړي دي.

شيما غفوري د همدې ټولنې او همدې خلکو منځ ته ورغلې ده، ورسره ناسته ده او د خوښيو، ويرونو، رنځونو او رنګارنګ احساساتو په څېو کې يې دا لنډۍ ورنه اورېدلي دي. د لنډيو ويونکو د شيما له پاره تمثيل نه دی کړی، بلکې د خپل زړه له تل نه يې، خپلې خبرې د لنډۍ په هنري، رنګين او زرين قالب کې هغې ته کړې دي.



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليرلو مخکې په ځير و لولئ

شیما غفوري وايي چې ما وليدل چې ټول خلک شاعران دي، هر يو کولای شي د زړه حال او خپل حالت د لنډۍ په قالب کې بيان کړي، هر څوک کولای شي لنډۍ ووايي او د وخت له ضايع کولو پرته د لسو شلو جملو لا د يوه کتاب مطالب د يوې هنري لنډۍ په چوکاټ کې مقابل لوري ته ولېږدوي.

**دا هم د استاد شیما غفوري په مقاله کې د څو را وړل شوو لنډيو بېلګې:**

**د ژبې سر دې خوله کې راکړه**
**دا شيريني بې لړمانه ته تيرومه**

**تر خوله مې زيړې اوبه راغلې**
**د بيلتانه لړم په زړه چيچلې يمه**

**يار مې په شنو سترګو مين دی**
**زه به دا توری سترګې چيرې بدلومه**

**د خولې خندا دې راسره ده**
**د زړه کوڅې د رانه بيلې دې مينه**

**عالمه لرې شئ له مخې**
**سترګو ويښتلي په ديدن يې مړومه**

**وړه خو نه يې چې شرميږې**
**غټه نجلۍ يې په چا غږ وکړه مينه**

**هلک خو نه يې چې شرميږې**
**مور ته مې وايه چې په لور د مين يمه**

**د سينې زور په اندازه کړه**
**تې مې خوړيږي اوسنۍ بالغه يمه**

**د وطن ترخې مې خوراک وای**
**خوراک مې مه وای د پردي وطن ګلونه**

**مور جانې مه راته قهرېږه**
**په تا تير شوې په ما اوس راغلي دينه**

**توری له تيکې راوباسئ**
**بيا مو وطن ته فرنګيان راغلي دينه**

**ولې دې سر په زنګون ايښی؟**
**خدای به آسان کا د دنيا مشکل کارونه!**

**صبر به کړم ښيرې به نکړم**
**صبر سرور دی ځواني مرګ به شې مينه**

**سترګې د توري کړه راووزه**
**د تورو سترګو سوداګر راغلي دينه**

**چې مازديګر شي زړه مې ښه شي**
**په ګودر جوړ شي د منګيو قطارونه**

**زه په عاشق سرې پوهيږم**
**يا يې رنګ زير وي يا يې شونډې وچې وينه**


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

جانانه دومره راسره وای
لکه برښنا چې له بارانه سره وینه

چیرته چې علم حاصلیږي
په هغه ځای کې به زه خاورې کړم هډونه

مورې لنډۍ توره مې راکړه
په وطن جنګ دی، زه خپل ځان قربانومه

خاونده ما د ګودر ګل کړې
چې جینکۍ مې شوکوی سر کې مې ږدینه

یار مې ټوپک زه یې مرمۍ یم
په تورو غرو یې وویشتم ورکه یې کړمه

مازدیګر چیرته وې چې نه وې
خورې ورې زلفې په بام ولاړه ومه

پاس په هوا راشه جانانه
د ځمکې لارې بیلتانه نیولې دینه

که یوړم، یوړم اوبو یوړم
چې بې ګودره ګډیدم اوبه مې وړینه

بیلتونه راشه ستړی مه شې
زړه مې پښتون دی، میلمه نه خپه کوینه

زما د څه وکړل چې ولاړې؟
ځان د پخپله بې دیدنه کا مینه

که تور وربل مې میراتیږي
په وطن جنګ دی جانان نه منعه کومه

که له زلمو نه پوره نشوه
ګرانه وطنه جینکۍ به دې ساتینه

ما ویل یوازې به زما یې
د اختر ټال یې هر سړی دې زنګوینه

مسافرۍ مې زړه نرۍ کړ
چې تش وطن را یادوم ژړا راځینه

وطن مې تن، تن مې وطن دی
د تن په وینو یې ساتم تر څو چې یمه

یو وارې ټینګه غیږه راکړه
بیا دې دادا له توره ورکړه چې راځینه


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ